مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۰۱/۲۳

# د خیرالبیان بشپړ متن

## لومړۍ برخه

**دا لیکنه ما په ۲۰۱۷ ع کال لیکلې او د بشپړ خیرالبیان په پیل کې مې د سریزې په توګه چاپ کړې ده. اوس مې د بیا خپرېدو اړتیا محسوس کړه.**

روښاني خوځښت د افغانستان او پښتنو د عرفاني، ادبي او سیاسي تاریخ د اوږده ځنځیر یوه خورا مهمه کړۍ ده چي بشپړي پېژندني ته ئي نور هم ډېر کار بویه . ددغه خوځښت د لارښود بایزید روښان (۱۵۲۴ـ ۱۵۷۲ع) د عرفاني او تصوفي عقایدو بشپړ او منسجم بیان په خیرالبیان کي راغلی دئ. خیرالبیان دبایزید په آثارو کي تر ټولو مهم کتاب دئ او همدغه وجه ده چي دده همعصر اولوی مخالف اخوند درویزه ننګرهاري ( ۱۶۱۹ع مر ) ئې په مخزن الاسلام کي په " شدّ و مدّ" سره غندي اوله ډېري غوسي څخه ئي " شربیان" یا" خربیان" بولي . د خیرالبیان لیکوال تکفیروي او دکتاب د سوځلو فتوا ئي ورکوي. د اخوند درویزه او د هغه د ملاتړیانو او پلویانو دغه هڅي نتیجه ښندي او د خیرالبیان نوم پاتېري خو پخپله کتاب د" انځر ګل ګرځي" چي موندل ئي ګویا ستونزمن کار دئ.خو د تاریخ له عجایباتو څخه یوه داده ، د هغه اثر یادونه چي اخوند ئي د سوځلو سپارښتنه کوي، وار د واره پخپله دده په آثارو ، "مخزن الاسلام" او " تذکرة الابرار والاشرار" کي تسجیل او ثبتیږي او په پښتنو کي بیا د اخوند درویزه د آثارو په تېره بیا مخزن الاسلام د پراخ خپرښت له اسیته د خیرالبیان نوم هم د مخزن د هر لوستونکي تر غوږو رسیږي .
د اخوند درویزه تر وفات زیات و کم دري لسیزي وروسته د " دبستان مذاهب" لیکوال د خپل کتاب په نهم تعلیم کي د " روشنیان" احوال راوړي او دهغه په ترڅ کي لیکی :" ... و کتابی دارد خیرالبیان نام و آن بچهار زبان است اول بعربی دوم بپارسی سیوم بهندی چهارم بشتو یعنی لغت افغانی ...."1. دغه یادوني د راتلونکو څېړونکو له پاره لومړني مدارک دي چي د روښانیانوپه باب ئي عموماً او د بایزید روښان په باب ئي په ځانګړي توګه استناد په کاوه . د یادوني وړ ده چي ددبستان مذاهب د لیکوال استناد بیا پر حالنامه باندي وو چي دده تر نظر تېر سوی وه خو د هغي نسخي هم غالباً د درویزه خپلو په فتوا له منځه تللي وي او صرف یوه نسخه ئي له نېکه مرغه په هندوستان کي خوندي سوې ده.
ددغو استنادو له مخي خیرالبیان د بایزید روښان د عقیدتي او سیاسي خوځښت تیوریکي تاداو دئ او په څلوپښتو بیانو کي په څلورو ژبو لیکل سوی دئ . د څلورو ژبو خبره اخوند درویزه هم لیکلي ده چي وایي : " این ملعون کتابی را تصنیف کرده بعضی کلمات اورا بزبان عربی ... بعضی را بزبان فارسی و بعضی را بزبان افغانی و بعضی رابزبان هندی ... و آن را خیرالبیان نام برده ...." 2.

دولت لوانی وایي:

په څلـــــور لفظه ئي خیرالبیان ګوره
چي نـازل شو و روښان ته له سبحانه

( دیوان ـ ۲۵۷مخ)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولـئ

بل ځای وايي:

## په ځلور لفظه ئي خيرالبيان روغ كه
## موافق، بنـــــه پـه آيات په حديثونه

(د افغانستان د ملي آرشيف قلمي نسخه)3

پخپله بايزيد روښان هم دخيرالبيان په مقدمه كي كښلي دي :" زه به دروښيم وتاوته پخپل قدرت په ځلور ژبي خيرالبيان ....". د كتاب په پاى كي هم د ځلورو ژبو خبره څو واره تكراروي : " ګوره! كړى مي دى خيرالبيان په ځلور ژبي موافق له قرآن ...."، " ګوره! هرچي لولي خيرالبيان او پي چاركه ورويه بنيم وده وته ځلور ژبي ....".
خو كله چي د خيرالبيان نسخه د اول وار دپاره د تحقيق ميدان ته راووتله، په هغي كي د سر له خوا په اولو اوو مخو كي ځلور سره ژبي (عربي، پارسي، پښتو، هندي) سته او ورپسي بيا په اوو مخو كي يو مطلب په عربي او پارسي راغلى دئ او بيا په پښتو.دې كار د پوهانو د بېلابېلو توجيهاتو له پاره ميدان جوړ كړ او د چاپي خيرالبيان فاضل مرتب حافظ عبدالقدوس قاسمي دا كار د نسخي دكاتب وباله او وئي ليكل : " ... دې كاتب د خپل مقصد دپاره يوازې پښتو نسخه كافي وګڼېله ځكه ئي د ابتدائي څوارلسو صفحو د پسه نوري دري واړه ژبي په ځائي پرېښي دى او صرف د پښتو نسخه ئي تر آخره مكمله كړى ده"4
د بايزيد روښان د بل كتاب مقصودالمؤمنين مرتب او انګرېزي ژبي ته ژباړونكى دكتور ميرولي خان مسعودي بيا له دي نظر سره موافق نه دئ او ليكلي ئي دي :
ژباړه : "...كه د كاتب مقصد د درو ژبو په ايستلو سره تر سره كېده نو ولي ئي د كتاب په سر كي بيا ځلور سره ژبي راوړلي؟ غالباً به بايزيد انصاري دكتاب په سركي هر عنوان د عمومي فايدې له پاره په ځلورو ژبو تشريح كړى دئ وروسته ئي د ځينو هغو لاملونو له اسيته چي ده ته معلوم ول، نوري درې ژبي پرې ايښي دي. دا كار ده په صراط التوحيد كي هم كړى دئ هوري ئي تر دېرشم مخ پوري خپل بيان په پارسي ژبه كښلى دئ او وروسته ئي په دوو ژبو،عربي او پارسي. "5
دكتور ميرولي خان مسعود دي ټكي ته ډېره پاملرنه نه ده كړې چي د صراط التوحيد د سر دېرش مخه (د پېښورچاپي نسخه) د كتاب له متن څخه بېله برخه ده چي بايزيد د سريزي په توګه ور اچولي ده. "آغاز كتاب" تر دېرشم مخ وروسته پيل كېږي او كتاب له سره ترپايه په دوو ژبو فارسي او عربي ليكل سوى دئ.6 د تيوبنګن نسخي ، خيرالبيان په باب ماته د حافظ عبدالقدوس قاسمي نظر سم ايسي . كاتب تر څورلسو مخو پوري څو ژبي رانقل كړي دي خو وروسته بي حوصلي سوى،نظر ئي اړولى او له عربي، پارسي او هندي برخي څخه تېر سوى دئ. د خيرالبيان ددوهمي نسخي موندلو دا ثابته كړه چي اصل كتاب په ځلورو ژبو وو او بايزيد كه په دې كار كي هرڅه مقصدونه درلودل، لړل به ئي خو په ځلورو ژبو دكتاب كښلو اراده ورته الهام سوې وه . دى د كتاب په پيل كي ليكي : " زه به دروښيم وتاوته په خپل قدرت په ځلور ژبي خيرالبيان ـ څه شو كه ته له دغه وړاندي بي خبره وې له خيرالبيان ـ" ددغه شان الهام په شته والي كي به غيراغلبه وي چي بايزيد دې دكتاب د څو مخونو له كښلو وروسته خپله اراده اړولې او يوازې دې پښتو غوره بللي وي.
د خيرالبيان تر چاپ وروسته ارواښاد قلندر مومند د خيرالبيان دريم قرأت خپور او په هغه كي ئي له متن څخه آيتونه او حديثونه وايستل او همدا ئي اصل خيرالبيان وباله. ارواښاد مومندپه دې عقيده وو چي خيرالبيان ته د آيتونو او احاديثو او د اولياوو مقولي له بايزيد پرته نورو كسانو ور اچولي دي. د يوه نظر په توګه خو دده دا خبره د احترام وړ ده خو د بايزيد خپل بيانونه او د خيرالبيان دوهمي نسخي دده خبره ورماته كړې ده. د حالنامي له روايت سره سم ،كله چي بايزيد روښان د كابل د قاضيانو د مشر (قاضى خان) له خوا استنطاق ته ور غوښتل كېږي، د قاضي ددغي پوښتني په جواب كي چي ويل ئي " در ميان الهام و وسوسه و ميان نداى رحمانى و شيطانى چګونه فرق و تميز مى نمائى؟" داسي وويل : " تميز الهام و وسوسه و ميان نداى رحمانى و شيطانى از دليل آيت و حديث و اقوال مشائخ مى كنم هر ندا و الهام كه موافق آيت و اقوال مشائخ باشد آنرا نداء رحمانى و الهام مى شناسم و آنكه موافق آيت و حديث نبوى نبود آنرا وسوسه و نداى شيطانى مى دانم به اعوذبالله من الشيطان الرجيم رد مى كنم. ".7 ددغه روش له مخي بايزيد روښان پخپلو ټولو آثارو كي هرځاى د خپل بيان د ملاتړ له پاره آيات ، حديث او د مشايخو اقوال راوړي دي. داكار ئي په صراط التوحيد او مقصودالمؤمنين كي هم كړى او په خيرالبيان كي هم.
د روښانيانو پر خلاف د اخوند درويزه او د هغه د پلويانو له خوا د تكفير او تحريم پراخ كمپاين د روښان بايزيد آثار تري تم كړل خو د تحريم ددغه اور له لمبو څخه د خيرالبيان يوه نسخه خوندي پاته سوې وه چي انګرېز ختيځپوه او ژبپوه سر ډېنسن راس8 ته په لاس ورغلي او انګلستان ته ئي ورسره وړې وه. دغه نسخه د مشهور ناروېژي ژبپوه مارګنسترني تر نظر هم تېره سوې وه اونوموړي په كال ۱۹۳۹ ع كي پخپله يوه ليكنه كي معرفي كړې وه او ځيني



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليرلو مخكي په ځير و لولـئ

اقتباسونه ئي ځني رااخيستي ول. دا ليکنه د (II Vol New Indian Antiquary) په نامه انګرېزي مجله کي خپره سوې ده .9
دا نسخه تر ۱۹۵۹ع کال پوري لادرکه وه او په دغه کال ئي د موندلو وياړ د پېښور يونيورسيټی دپښتو اکېډيمۍ د مشر ارواښاد مولانا عبدالقادر( ۱۹۰۵- ۱۹۶۹ع ) په برخه سو. نوموړي دغه نسخه د المان په ټيوبنګن ښار 10کي وموندله او په ۱۹۶۷ع کال ئي د پښتو اکېډيمی له لاري چاپ کړه چي زه به وروسته پر وږغېږم.
د خيرالبيان ددغي نسخي تر موندلو پنځه ويشت کاله وروسته ددغه په سونګ محکوم اثر يوه بله نسخه د ښاغلي زلمي هيوادمل پر لاس را څرګنده سوه( ۱۹۸۴ع) چي د هندوستان په سالارجنګ موزيم - حيدرآباد دکن کي خوندي وه.
دانسخه ما(م .هوتک) د پښتو ادب او د روښاني خوځښت څېړونکو ته د متنپوهني له اصولو سره تر يوې اندازې سمه ترتيب او تحشيه کړې ده چي ستاسي مخي ته پرته ده. دا چي ما ولي او څرنګه ددغه درانه ادبي بار پورته کولو ته اوږه ورکړه، کيسه ئي داسي ده :
په ۱۳۶۳ هـ ش = ۱۹۸۴ع کال مي په کابل کي د ښاغلي زلمي هيوادمل صاحب (دهند دکتابخانو پښتو خطي نسخي) په کتاب کي د خيرالبيان د يوې بلې خطي نسخي د پيداکېدو خبره ولوستله . ددغي نسخي لنډه پېژندنه ئي په دبرښو ليکو (کربنو) کي کښلي وه. دا خبره د پښتو ادب هر مينه وال ته د خوښی سبب سوه او طبيعي ده چي زه هم په دغه خوشالي کي شامل تن وم. په هغه وخت کي له علامه عبدالحي حبيبي پرته د پښتنو پوهانو نوري ستري هستۍ لا د ژوند پر مېنه وې او زما په اروا کي لا نه راګرځېده چي داسي وخت به هم راځي چي د خوارکي پښتو د نوو موندل سوو آثار د تحقيق او تحشيي کاربه زما اريان قلم ته محتاجه کيږي. هغه وخت زموږ ځوانانو شاوي غره ته وې او دا مو يقين ووچي د پښتو ژبې د ودي او غنا هنګامه به سرېدو ته نه پرېښوول کيږي. څو کاله وروسته تقدير په ما د کراچي ښار اوبه وڅښلې. په دغه ښار کي د مهاجرت او پرديسی ترخي او اوږدې شپې مي په ډېرو محدود امکاناتو کي د څېړني او تحقيق په کار لنډولي . ښاغلي زرين انځور به له پېښور څخه د (سپېدې) مجله رالېږله او ما به هم کله کله قلمي همکاري ورسره کوله. يووخت ئي د ارواښاد قلندر مومند( دخيرالبيان تنقيدي مطالعه) کتاب رالواستاوه او راڅخه وئي غوښتل چي يوڅه پر وليکم. دا کار ما د کتاب تر لوستلو وروسته وکړ او ليکنه مي په (سپېدې) کي د خپرېدو له پاره ور ولېږله. ارواښاد قلندر مومند پخپل دغه کتاب کي د روښان، روښانيانو، روښاني آثارو په باب خپل برداشتونه او ځيني خصمانه انتقادونه بې پروا بيان کړي دي چي دهغو راوړل زما ددې اوسنی ليکني له روحيي او مقصد سره اړه نه لري خو دې خبري ئي چي " ... سره دَدې هم دَ خيرالبيان دَ يوې بلې نسخي راپيدا کېدل يوه ډېره اهمه خبره ده او لهـ دې نه به تر ډېره حده دَ ځنو هغو نکتو پهـ حل کښې مدد وموندی شی چې دې مقاله کښې ئې ذکر شوی دی. "11 زما په زړه کي دا ارمان را وخوځاوه چي کشکي مي دکن حيدرآباد ته د تللو وسايل او امکانات لرلای څو ددغي نسخي په باب مي اورده څېړنه کړې وای او که ممکنه وای چي متن مي ترتيب کړی او خپور کړی وای . دا خو هسي يوه ارزو وه او د زړه سوده مي د (روښاني ليکني) د محترم ليکوال په دې خبره وکړه چي د همدغي نسخي په اړه ئي کښلي وه :" ... ددې نسخي په خپرېدلو سره به چې، د ښاغلي زلمي هيوادمل تر کارلاندي ده، د خيرالبيان په باب نوې خبرې او انکشافات وشي"،12 خو خبر نه وم چي پر نسخه باندي د کارکولو خبره سهي نه وه.13زما د ژوند پرديس کاروان چي کله کاناډا ته راورسېد، هم مي هرکله په زړه کي راګرځېدل چي دغه نسخه وګورم . کلونه تېرسول خو زما دا آرزو له زړه ونه وتله. په افغانستان کي د نوي نظام (ديموکراسی؟) له راتګ سره ماته ددې امکانات برابر سول چي له کم (کوم)وزير، کم والي او کم سفير سره د شخصي اړيکو له لاري ويېژنم . له ځانه سره مي وپتېيل چي له دغه شان پېژندګلويو څخه به د فرهنګي کارو په بشپړاينه کي کار واخلم او که مي وکولای سول چي دغي نسخي ته يوه لار برابره کړم. ډېري دروازې مي وټکولې خو د خواست کچکول ته مي څه ونه لوېدل.
تر دې وروسته مي عزم وکړچي د شخصي تشبث پر لار خپله ارزو ترسره کړم . دخپل دغه پلان خبره مي يووخت له ښاغلي دکتور عبدالخالق رشيد صاحب سره هم شريکه کړه .د ۲۰۱۶ع کال په سپتمبر کي مي د ګران خليل سروري په توسط په دکن حيدرآباد کي د کندهار پوهنتون له ځوان استاد ښاغلي محمد طاهر هاند سره، چي په حيدرآباد پوهنتون کي ئي ماستري اخيستله، اړيکي ټينګ کړل. له ده څخه مي د خيرالبيان د همدغي نسخي د کاپی په ترلاسه کولو کي مرسته وغوښتله. دی دي خدای د دوارو جهانو سردار کړي، په لنډ وخت کي ئي د سالارجنګ موزيم له مقرراتو سره سم ددغي نسخي د سر، منځ او پای سل سل مخه کاپي د ايميل له لاري کاناډا ته راوليږله. د پاته برخي د کاپي کولو له پاره ئي د قانوني لارو چارو د موندلو وعده راکړه اود کاپی لګښت ئي هم زما له بيا بيا يادونو سره سره،پرخپله غاړه واخيست. زه د ښاغلي هاند ددغه فرهنګي ايثار ډېره ډېره قدرداني د ځان فرض بولم او ده ته په ژوند کي د علمي بريالیتوب دوعا کوم. ما تر دغه وخت دمخه لا د خيرالبيان د پېښور چاپ نسخي ټايپ سوی متن په کندهار کي د ښاغلي اسدالله ارماني په مرسته برابر کړی او ترلاسه کړی مي وو. د سالارجنګ موزيم د کاپيو په ترلاسه کولو مي سمدستي د متن د ترتيبولو کارپيل وکړ . د راسېدلو پاڼو د ټايپ او مقابلې کار مي په څو مياشتو کي بشپړ کړ خو د نسخي د پاته برخي د کاپی کار د قانوني خنډونو له اسيته ځنډمن سو او طبيعي ده چي زما کار هم په ټپه ودرېد خو بېکاری ته چي مي د خپل عادت له مخي هيڅ وخت زړه نه ښه کيږي، نو مي خيرالبيان پرېښوو او د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

بایزید روښان پر بل اثر ، صراط التوحید مي کار پیل کړ. د صراط التوحید متن مي د۲۰۱۷ع کال تر دوبي پوري بشپړ کړ. ددغه کال په می میاشت کي ښاغلی حبیب الله رفیع صاحب له کابل څخه کاناډا ( کالګري) ته تشریف راووړ او د تیلفوني خبرو په ترڅ کي مي پر صراط التوحید باندي دخپل کار د بشپړېدو زېری هم پر وکړ او ضمناً د خیرالبیان دهمدغي نسخې په باب د خپل کار خبره هم ورسره شریکه کړه. دوې ورځي وروسته ښاغلي رفیع صاحب تیلفون راوکړ او راته وې ویل چي استاد خالق رشید د خیرالبیان ددغي نسخې د کاپۍ اخیستلو کار پیل کړی دئ له ده سره اړیکه ونیسه او زیاته ئې کړه چي " زه به ځان له منځه وباسم". له استاد رشید صاحب سره مي سمدستي تیلفوني خبري وکړې او راته وې ویل چي په یوه سیمینار کي د ګډون په نیامت دکن حیدرآباد ته تللی وو او هورې ئې د خیرالبیان د همدغي نسخې د کاپۍ اخیستلو کار پیل کړی دئ او ډاډ ئې راکړ چي کاپي به ئې له رسېدو سره سمه درولېږم. د همدې کال د جون پر دوولسمه ئې د نسخې د ۲۹۵ مخو کاپي راولېږله او د نورو پاڼو کاپۍ ئې هم د اکتوبر تر پایه پوري د ایمیل له لاري راواستولې. استاد خالق رشید صاحب ددغو کاپیو اخیستلو له پاره دوه واره له ډهلي څخه تر حیدرآباد پوري د سفر ستونزي پر ځان ومنلې. دا کار ئې بې له کوم امتیازه یوازي له خپل فرهنګ او ژبي سره د میني په جذبه سرته ورساوه. زه ددوی ددغه احسان مرهون یم .
کیسه راڅخه اوږده سوه، لنډه ئې داچي پر نسخه مي شپه و ورځ کار وکړ او د ۲۰۱۷ع کال د نومبر په وروستۍ ورځ مي د متن د ترتیب، تحشیې اوسریزي کار بشپړ کړ.

---

**لمنلیکونه:**

1 فانی ـ میرزا محسن کشمیری، دبستان مذاهب ـ ص ۲۵۱ـ چاپ ۱۲۹۲هـ ق، بمبئی
محسن کشمیری د پارسي ژبي هندوستانی شاعر دئ چي پر دبستان مذاهب سربېره د پارسي شعر دیوان او د " نجات المؤمنین" او " شرح عین العلم" په نامه دوه نور کتابونه په نثر کښلي دي. د محسن فانی د مړینی تاریخی ماده " رفت فانی به عالم باقی" ګڼل سوې ده چي ابجدي ارزښت ئې ( ۱۰۸۲هـ ق) کېږي. ددیوان مرتب د دیوان په ( ص، چ) کي ددغي مادې ( به عالم فانی) ترکیب د ( بعالم فانی) په بڼه ثبت کړی دئ چي تاریخي ماده پنځه کاله شاته غورځوي. استاد سعید نفیسی د همدغه دیوان په مقدمه ( ص، الف) کي د فاني د مړینی کال ۱۰۸۱ بللی دئ.( د تفصیل له پاره وګورئ : دیوان محسن فانی ـ چاپخانه راستی ـ تهران ـ ۱۳۴۲ ش)
2تذکرة الابرار والاشرار ـ ص ۱۴۸ـ اداره اشاعت سرحد پشاور
3ددغي قلمي نسخې ددغه مخ کاپي (عکس) ښاغلي روهیال له کابله د ایمیل له لاري راواستاوه. په چاپي نسخه کي دغه او ډېر نور بیتونه نسته.
4خیرالبیان ـ دیباچه ـ ۵۸ مخ ـ پېښور ـ ۱۹۶۷ع
5مسعود، میرولي خان، دکتور، مقصودالمومنین (انګرېزي ژباړه)، ۵۴مخ، پېښور، ۱۹۸۰ع ـ دغه راز : مقصودالمومنین ، ۶۸ ـ ۶۹ مخونه، اسلام آباد، پاکستان ، ۱۹۷۶ع
6 وګ : صراط التوحید ـ د محمدمعصوم هوتک په زیار ـ ۲۰۱۷ع
7 وګ : مخلص ، علی محمد کندهاری ـ حالنامه ـ ۳۱۶مخ، کابل ـ ۱۳۸۸هـ ش
8 سر ډینسن راس ـ Sir Edward Denison Ross(1871-1940) ـ د انګلستان اوسېدونکی او د بریټیش موزیم د ادري هیئت (staff) غړی وو. نهه څلوېښت ژبي ئې لوستلای او په دېرشو ژبو ړغېدلای سوای.
9 د خیرالبیان په چاپي نسخه ـ پېژندګلو ـ ۴ مخ کي ئې دا لیکنه د همدې مجلې په پنځم ټوک کي بللې ده چي چاپي تېروتنه به وي .
10 د تیوبیګن (Tubingen) کوچنوټی ښار د المان په جنوب لویدیځ پروت دئ. ددې ښار شهرت د تیوبنګن پوهنتون له اسیته دئ. دا پوهنتون په ۱۴۷۷ع کال کي تاسیس سوی دئ. وایي چي د تیوبنګن ښار هر دریم تن محصل دئ.
11 مومند ـ قلندر ـ د خیرالبیان تنقیدي مطالعه ـ ۹۱ مخ ـ پېښور ـ ۱۹۸۸ع
12 رفیع ـ حبیب الله ـ روښاني لیکنې ـ ۲۱ مخ ـ جدون پریس ، پېښور ـ ۱۹۸۷ع
13 سږ کال (۲۰۱۷ع) چي مي له ښاغلي رفیع صاحب څخه په تیلفون کي ددغي خبري توضیح وغوښتله، راته وې ویل چي پر نسخه باندي د کارکولو خبره ده ته همداسي ویل سوې وه.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ